شفیق جسار

۲۰۱۹/۰۵/۰۵

د انسان وژنې تولو قربانیانو ته ډالې

# د خیال نړی

نه جنت وای نه دوزخ وای نه تشویش د آخـرت وای

نه د حورو خوب لیدل وای نه کیسي د لوړ قامت وای

نه غلمان وای ډلي ډلي ، د وصال د شـــــربت تږي

نــه ویالي وای د شرابو، نـــــه نېښي نه یې ذلت وای

نـــه پوښتنه د ژوندون وای نـــــه حساب د عملونو

خـــدای پخپله اخیستلی د کارونـــــو مسؤولیت وای



د دنیا پـــه نعمتو کي ، تـــولو بـــرخـه درلودلای

پـــه وېشلو د مـــالو کي لــړ تــــر لږه عدالت وای

نه د خدای په سر جنګونه ، نه د دین په نوم قتلونه

نه د بل د دین تحقیر کي ، چا لیدلای خپل عزت وای

نــه د کلیو ورانــول وای نه د خـلکو ځورول وای

نه د بل د ملک نیول وای نـه د بل چا حاکمیت وای

هر انسان تــه احترام وای ، د پوره انسان په سترګه

بې توپیره انسانیت وای ، بې تبعیضه بشریت وای

د هـرڅه حق دې لرلئ ، چې دې بل نه ځورولای

آزادي وای خوشحالي وای ، وروروليي وای محبت وای

د "جـسار" په زړه ارته ، د هــرچـا د زړه لمن وای

سوله تیته په دنیا وای ، ژوند مصؤون له هر آفت وای

تورنتو اپریل ۲۴، ۲۰۱۹ د ماسپښین دوې بجې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ